مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۴۸** (از ۲۵ حمل الی ۱ ثور ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط محققین مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**آیا روابط کابل و اسلام‌آباد بهبود خواهد یافت؟**

نگاهی به روابط دوجانبه ........ ۴

مشکل اساسی روابط کابل-اسلام‌آباد ........ ۵

روابط دو کشور به کدام سو می‌رود؟ ........ ٦

**د سولې ولسي غوښتنې او د امن راتلو هیلې**

سوله او د ولسي خوځښتونو اړتیا ........ ۸

د هلمند سوله غوښتونکي ........ ۹

د سولې ولسي خوځښت غوښتنې ........ ۱۰

د جګړې خلاف د ولسي غږ اغېزې ........ ۱۰

## مقدمه

په تېرو څو میاشتو کې د کابل او اسلاماباد ترمنځ د جګ‌پوړو چارواکو تګ‌راتګ زیات شوی، چې اصلي موخه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د شته بې‌باوریو له منځه وړل دي. په دې لړ کې څو ورځې وړاندې د پاکستان لومړي وزیر هم کابل ته سفر وکړ او له افغان چارواکو سره یې د سولې د بهیر ترڅنګ پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې. د ۲۰۱۵ کال په مې میاشت کې د پاکستان د پخواني لومړي وزیر نوازشریف له سفر وروسته، دا کابل ته د لوړپوړي پاکستاني چارواکي سفر دی، چې د دواړو هېوادونو د اړیکو رغولو او شته اختلافاتو د له منځه وړلو په موخه کېږي.

که څه هم په تېرو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو رغولو په موخه ډېر ځله دا ډول سفرونه او هڅې شوې دي؛ خو دا اړیکې لا هم په تر ټولو ګړ کېچن حالت کې دي. پوښتنه دا ده، چې د دواړو هېوادونو په اړیکو کې بنسټیزه ستونزه څه ده او ایا دا اړیکې به د ښه‌والي په لور ولاړې شي کنه؟ په اړه یې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل په لومړی برخه کې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې بیا د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د جګړې د پای ته رسولو په پار د سولې د ولسي خوځښت ترنامه لاندې پیل شوو هڅو په اړه لولئ. په تېرو څو کلونو کې کال په کال د ولسي وګړو مرګ‌ژوبله زیاتېږي او روانه جګړه هره ورځ د هېواد په بېلابېلو برخو کې له افغانانو قرباني اخلي. همدغه خونړی وضعیت د دې لامل شوی، چې خلک د جګړې پر ښکېلو لورو د فشار لپاره د سولې ناره اوچته کړي. دا چې د سولې لپاره د دغو ولسي حرکتونو اړتیا او اغېزې څه دي، هغه پوښتنې دي چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# آیا روابط کابل و اسلام‌آباد بهبود خواهد یافت؟



**حکمت الله زلاند /** مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

در سال‌های اخیر و پس از روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی در افغانستان، تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد زمانی بالا گرفت که جانب افغانستان خواستار اقدامات عملی پاکستان در مورد تعهداتش با این کشور شد. روابط دو کشور در این مدت به حدی تنش‌آلود گردیده که به درگیری‌ها میان نظامیان دو کشور نیز انجامیده است. در مورد اخیر، چند روز بعد از سفر نخست‌وزیر پاکستان به کابل، نظامیان سرحدی دو کشور در ولایت خوست درگیر شدند که تلفاتی نیز در پی داشت.

شاهد خاقان عباسی نخست‌وزیر پاکستان چند روز قبل در حالی به کابل سفر کرد که از یک‌سو پاکستان تحت فشارهای جهانی به دلیل عدم همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان قرار دارد و از سوی دیگر گفتگوهای دوجانبه برای حل مشکلات موجود میان کابل و اسلام‌آباد نیز جریان دارد، ولی پیشرفتی در آن دیده نمی‌شود. در سفر نخست‌وزیر پاکستان نیز روی نهایی‌سازی پلان عمل افغانستان و پاکستان توافق صورت گرفته است.

پاکستان بارها وعده‌های همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان سپرده، اما این وعده‌ها بیشتر جامهٔ عمل نپوشیده است. پرسش اینجاست که مشکل اساسی روابط دو کشور در کجاست؟ آیا پاکستان نمی‌خواهد سیاست خویش را در قبال افغانستان تغییر دهد و یا نمی‌تواند این کار را انجام دهد؟

## نگاهی به روابط دوجانبه

تاریخ روابط دو کشور از همان آغاز تا کنون با فراز و نشیب‌هایی همراه بوده و همواره بی‌اعتمادی‌های گوناگون میان افغانستان و پاکستان وجود داشته است. پس از سال ۲۰۰۱ در هر دو دورهٔ حامد کرزی این روابط با تنش‌ها و بی‌اعتمادی‌هایی همراه بود. حامد کرزی در مدت ریاست جمهوری خود ۲۱ بار به پاکستان سفر کرد، ولی در روز اخیر و سپردن قدرت به جانشین‌اش از عدم همکاری اسلام‌آباد شکایت کرد و گفت: «کلید صلح افغانستان با پاکستان و امریکاست».

با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی در پی بهبود روابط کابل-اسلام‌آباد برآمد و امتیازاتی نیز به پاکستان داد. حکومت وحدت ملی برای کاهش نگرانی‌های اسلام‌آباد، در اوایل این حکومت، روابط کابل-دهلی را نیز به سردی کشاند.

حکومت وحدت ملی با استفاده از نزدیکی روابط با پاکستان و همزمان با استفاده از ابزار سیاست خارجی تلاش کرد تا این کشور را به همکاری صادقانه در پروسهٔ صلح به خصوص حاضر کردن طالبان به میز مذاکره با حکومت افغانستان وادار کند. ولی با گذشت چند ماه، افزایش ناامنی‌ها و حملات مرگبار در کشور و شکست پروسهٔ مذاکرات مستقیم با طالبان در پی اعلام خبر درگذشت ملا محمد عمر رهبر پیشین طالبان، باعث چرخش در سیاست و رابطهٔ این حکومت با اسلام‌آباد شد.

تیره‌گی روابط میان دو کشور بالآخره به جایی رسید که باعث درگیری‌ها میان نظامیان دو کشور در بندر تورخم و چمن گردید که تلفاتی نیز برای هر دو جانب در پی داشت. این وضعیت نه تنها روابط دو کشور را به پرتنش‌ترین مرحله رساند، بلکه باعث ایجاد کینه و انزجار میان مردم دو طرف نیز گردید. صدها هزار مهاجر افغان به دلیل آذار و اذیت پولیس پاکستان به کشور خود برگشتند و تجارت میان دو کشور نیز بیش از یک میلیارد دالر کاهش یافت.

## مشکل اساسی روابط کابل-اسلام‌آباد

با توجه به پیشینهٔ روابط کابل و اسلام‌آباد، گاه‌گاهی شاهد بهبود این روابط نیز بودیم، اما در کل بی‌اعتمادی‌ها و تنش‌ها میان دو کشور همیشه وجود داشته است. ریشهٔ این بی‌اعتمادی‌ها را می‌توان در چند نکتهٔ ذیل بیان کرد.

قضیهٔ دیورند از عواملی شمرده می‌شود که بر روابط دو کشور در هفت دههٔ گذشته تاثیر داشته است. پس از تشکیل پاکستان، این مسأله به‌عنوان یک مشکل همیشگی میان دو کشور باقی مانده و روی سیاست خارجی پاکستان در قبال افغانستان سایه افکنده است، چون همین قضیه نیز یکی از عواملی محسوب می‌گردد که به دلیل آن پاکستان در پی دست یافتن به "عمق استراتیژیک" در افغانستان است.

محمد داوود خان، نخستین رئیس جمهور افغانستان بود که با خط دیورند به عنوان مرز رسمی بین دو کشور مخالفت کرد. در دوران جنگ‌های داخلی و نیز رژیم طالبان با وجود خواست‌های مکرر پاکستان، تمامی حکومت‌های افغانستان خط دیورند را به حیث سرحد رسمی میان دو کشور به رسمیت نشناخته است. پس از سال ۲۰۰۱ در هر دو دورهٔ ریاست جمهوری حامد کرزی نیز قضیهٔ دیورند روی روابط دو کشور سایه افگنده بود و کرزی نیز بارها اعلام کرد که دیورند را به رسمیت نمی‌شناسد.

نفوذ و "قدرت نرم" هند در افغانستان نیز از مهم‌ترین عواملی به شمار می‌رود که پاکستان آنرا تهدیدی برای خود می‌پندارد. بنابراین، سیاست پاکستان در مورد افغانستان بیشتر به دستیابی به عمق استراتیژیک در افغانستان می‌چرخد که از یک‌سو به رسمیت شناختن خط دیورند و از سوی دیگر کنترول نفوذ هند در افغانستان است. چنانچه حامد کرزی تجربهٔ ۱۳ سالهٔ رابطه خود با پاکستان را، در دو نقطهٔ قضیهٔ دیورند و کنترول بر سیاست خارجی افغانستان خلاصه کرد.

در کنار بی‌اعتمادی‌های تاریخی، ناتوانی پاکستان در عملی ساختن تعهدات خویش در چند سال اخیر یکی از مشکلاتی بوده که روابط دو کشور را متأثر ساخته است. پاکستان همواره تعهداتی را به جانب افغانستان سپرده که توان عملی ساختن آنرا نداشته است. هرچند پاکستان می‌تواند در پروسهٔ صلح افغانستان همکاری و نقش مثبت داشته باشد، ولی در کل پاکستان نمی‌تواند طالبان را به میز مذاکره حاضر کند، چون عوامل متعددی این حقیقت را روشن ساخته که این کشور کنترول آنچنانی که گفته می‌شود، بر این گروه ندارد.

## روابط دو کشور به کدام سو می‌رود؟

تلاش‌های پاکستان برای بهبود روابط با افغانستان بیشتر به دلیل فشارهایی است که پاکستان با آن روبه‌رو است. در ماه‌های اخیر و پس از اعلام استراتیژی ترامپ در قبال افغانستان، شاهد فشارهای پی‌درپی از سوی امریکا بر این کشور بودیم. حتی چین به عنوان متحد استراتیژیک اقتصادی و سیاسی پاکستان در منطقه نیز این کشور را به دلیل فعالیت گروه‌های مسلح تندرو در داخل خاک پاکستان، مورد فشار قرار داده است. در اعلامیهٔ اخیر سازمان بریکس (سپتامبر ۲۰۱۷) که چین یکی از مهم‌ترین اعضای آن به شمار می‌رود، فعالیت گروه‌های مسلح در منطقه تقبیح شده بود و مهم‌تر اینکه از کلمهٔ «داخل پاکستان» در آن استفاده شده بود.

بنابراین، سفر نخست‌وزیر پاکستان و سایر مقام‌های ملکی و نظامی پاکستان در چند ماه اخیر نشانگر نگرانی پاکستان از روابط پرتنش با افغانستان است، چون این کشور به دلیل فشارها و موقف تند حکومت افغانستان و جامعهٔ جهانی در مو د عدم همکاری با پروسهٔ صلح افغانستان، منزوی شده است.

اینکه عامل اساسی تیره‌گی روابط در چند سال اخیر، عملی نشدن تعهدات پاکستان بوده، در حال حاضر نیز به نظر نمی‌رسد که حکومت افغانستان در بهبود روابط با پاکستان از پیش‌شرط‌های خویش به آسانی بگذرد و نظر به موقف کنونی حکومت افغانستان، بهبود روابط میان دو کشور مربوط به همکاری صادقانهٔ پاکستان در رابطه به پروسهٔ صلح افغانستان خواهد بود.

با این هم، در چند ماه گذشته و با وجود منزوی شدن پاکستان، پیشرفت ملموسی در راستای حل مشکلات میان دو کشور و تغییر سیاست پاکستان در قبال افغانستان دیده نشده است. در کنار این، فضای بی‌اعتمادی در روابط کابل و اسلام‌آباد به خصوص در دو سال گذشته به حدی گسترده شده که به این زودی‌ها و بدون اقدامات جدی و عملی، این روابط تنش‌آلود بهبود نخواهد یافت.

# د سولې ولسي غوښتنې او د امن راتلو هيلې



**ضياءالاسلام شيراني** / د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

په افغانستان کې له تېرو څو لسيزو راهيسې رواني جګړې په بېلابېلو پړاوونو کې د بېلابېلو ډلو له لوري د دغه هېواد سلګونه زره بچي قرباني او په ميليونونو نور يې د خپلې خاورې پرېښودو ته اړ کړل.

له ۲۰۰۱ کال وروسته د امريکا له لوري د طالبانو د رژيم له ړنګېدو سره افغان جګړه د امريکا او ناټو غړو هېوادونو لاسونو ته ولوېده. که څه هم په لومړيو کې د طالبانو د رژيم له ړنګېدو وروسته په هېواد کې څو کاله نسبي امنيت ټينګ شو؛ خو وروسته د بېلابېلو لاملونو له کبله ورو ورو جګړه بيا پيل شوه او ورځ تر بلې يې زور واخيست.

په روانه جګړه کې د جګړې د ښکېلو لورو د جګړه‌ييزو تګلارو له کبله په پراخه کچه عام خلک وژل کېږي او ان په عامه ځايونو او له ګڼه‌ګوڼې ډکو ځايونو، روغتونونو، جوماتونو او مدرسو هم بريدونه کېږي. دغه وضعيت او په پراخه کچه ملکي تلفاتو ولسونه اړ کړي چې د جګړې خلاف غږ پورته کړي، ښځې او نر، ځوانان او سپين ږيري د جګړې له ښکېلو لورو د سولې کولو غوښتنه وکړي.

دا چې په افغانستان کې د رواني جګړې د پای ته رسېدو په موخه د ولسي حرکتونو شومره اړتیا ده، له هلمنده د سوله غوښتونکو غږ څنګه راپورته شو، د دغو ولسي خوځښتونو غوښتنې څرنګه ارزول کېږي او پر سوله او جګړه به یې اغیزې څه وي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## سوله او د ولسي خوځښتونو اړتیا

په افغانستان کې له ۲۰۰۱م کال راوروسته پیل شوې جګړې افغانانو ته په هره برخه کې درانه زیانونه واړول او په خپل درانده سیوري سره یې د هر افغان پر کور او ژوند تیاره خپره کړه.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی دفتر (یوناما) د راپور له مخې، یوازې په تېر ۲۰۱۷ کال کې له ۱۰ زره زیاتو ولسي وګړو ته د رواني جګړې له کبله مرګ‌ژوبله اوښتې وه او حتی د خوښیو مراسم او یا هم دیني مراسم د جګړې د ښکېلو لورو په بریدونو کې په نښه شوي وو.

له مرګ‌ژوبلې ورهاخوا په هېواد کې د جګړه‌ییز او ناوړه وضعیت له کبله شااوخوا ۳,۵ میلیونه افغانان په نشه‌یي توکو روږدي دي، چې اکثریت یې ځوانان دي. په همدې کچه افغان ماشومان له ښوونځیو محروم دي. نږدې ۴۰ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او د نړیوال بانک د احصائیې له مخې ۱,۹ میلیونه افغانان، چې د کار پر شرایطو برابر دي، وزګار دي. تر ټولو مهمه دا چې اوسمهال افغانان په پراخه کچه د نهیلۍ ژوند تېروي او نهیلي او د ډاډ نشتون ورځ تر بلې په زیاتېدو دی.

په هېواد کې د دغه وضعیت تر ټولو ستر لامل د جګړې دوام دی. له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د جګړې ښکېلې غاړې هڅه کوي، چې خپل مقابل لوری د جګړې په ډګر کې محوه کړي؛ خو هېڅ لوری نه دی بریالی شوی او په نړۍ کې د جګړو تاریخ جوته کړې، چې د جګړو پای په سولې سره کېږي؛ ځکه نو که روانه جګړه کلونه نوره هم اوږده شي، بیا به هم ګټونکی لوری ونه لري.

د افغان جګړې په تړاو هم دا حقیقت افغان حکومت او نړیوالې ټولنې درک کړی او له همدې کبله د حکومت په ګډون د بېلابېلو کورنیو او بهرنیو لورو له‌خوا په تېرو څو کلونو کې د سولې لپاره هلې ځلې وشوې؛ خو لا هم بریالۍ شوې نه دي.

له یوې خوا د حکومت هلو ځلو تراوسه کومه پایله نه ده لرلې او له بلې خوا اړتیا ده، چې د جګړې پر ښکېلو لورو د فشارونو له لارې هغوی د خپلو جګړهییزو پالیسیو بدلون ته اړایستل شي. دې ته په کتلو سره، چې د روانې جګړې اصلي قربانیان ولسي وګړي دي، د سولې لپاره د ولسي غږونو جدي اړتیا لیدل کېده، که څه هم په تېرو کلونو کې په بېلابېلو ډولونو دا غږ پورته شوی هم دی؛ خو د اوسني خوځښت په څېر منعکس او منظم شوی نه و.

## د هلمند سوله غوښتونکي

په هلمند کې د روان ۱۳۹۷هـ ش کال د حمل میاشتې په ۳مه، یوه ورزشي لوبغالي ته څېرمه موټربم برید کې تر ۲۰ زیاتو ملکیانو له وژل کېدو وروسته، د ښځو په ګډون لسګونه هلمندي ځوانانو او سپینږیرو د «طالبه! نور به سوله کوې» تر شعار لاندې د سولې ولسي خوځښت پیل کړ او نږدې د یوې میاشتې په تېرېدو سره په ۱۷ ولایتونو کې د دغه غږ پر ملاتړ خلکو خېمې ودرولې.

هلمند کې د سولې د ولسي خوځښت غړي شریف علیزي له ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز سره په خبرو کې وویل: «موږ نور له دې جګړې ستړي شوي یو، په دې جګړه کې مو نه مقدسات، نه عامه ځایونه، نه ښوونځي او نه هم روغتونونه خوندي دي، موږ هر ځای وژل کېږو.» علیزی زیاتوي: «جګړه د حل لاره نه ده، موږ امن او سوله غواړو او سوله هغه وخت راتللای شي، چې خلک راپورته شي او د جګړې ښکیل لوري اړ کړي، چې سوله وکړي؛ ځکه دا جګړه له ۴۰ کالو راهیسې روانه ده، خو هېڅ کټونکی نه لري او قرباني یې یوازې افغانان ورکوي.»

هلمند کې د سولې خوځښت یو بل غړی انجنیر داوود فرهنګ بیا وایي چې له هلمنده پیل شوی د سولې ولسي خوځښت د افغانستان د ځورېدلي ولس غږ دی. دی ټینګار کوي: «د دغه خوځښت تر شا هېڅ ډله او بنسټ لاس نه لري، دا یو بشپړ ولسي خوځښت دی او زموږ د سولې دا خوځښت به په لنډ مهال کې په ټول هېواد کې د امن راتلو په موخه په یوه لوی ولسي حرکت بدل شي.»

د افغانستان د یو شمېر نورو سیمو په څېر هلمند هغه ولایت دی، چې خلکو یې په روانه ۱۷ کلنه جګړه کې ډېرې مرګژوبلې او درانه زیانونه لیدلي دي. د همدې جګړې ناخوالو او ربړوونو بالاخره هلمندیان اړ کړل، چې د جګړې خلاف خپل سولهییز غږ پورته کړي او له ښکېلو لورو د جګړې د بندولو غوښتنه وکړي.

## د سولې ولسي خوځښت غوښتنې

دا چې د رواني جګړې د پای ته رسېدو لپاره لومړني ګامونه واخیستل شي، په هلمند کې د سولې ولسي خوځښت تر عنوان لاندې را ټولو شوو کسانو د پیل غوښتنه دا وه، چې طالبان او حکومت دې لږ تر لږه د دوو ورځو لپاره اوربند وکړي، ترڅو دا دوه‌ورځنی اوربند د اوږدمهال اوربند او د سولې د خبرو لپاره لاره هواره کړي.

که څه هم د سولې ولسي خوځښت د اوربند غوښتنه ډېره معقوله ده؛ خو ستونزه دا ده چې دوی په افغان جګړه کې مهم لوری (امریکا) نه دی مخاطب کړی. په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو حضور هغه فکتور دی، چې له کبله یې په تېره کابو یوه لسیزه کې د سولې هڅې نه دي بریالۍ شوې او د طالبانو له لوري د دوی د جګړې اصلي لامل بلل کېږي.

همدا لامل دی، چې کله د سولې ولسي خوځښت غړو غوښتل په هلمند کې د طالبانو مرکز موسی کلا ته ورشي او د اوربند غوښتنه ترې وکړي، هغوی یې په ځواب کې د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل: «موږ د هلمند له پرلت کوونکو څخه غوښتنه کوو، چې د مجاهدینو سیمو ته د راتګ پر ځای باید د امریکایانو مرکزونو او بېسونو ته د اعتراض په ډول ورشي، له هغوی څخه وغواړي چې روان اشغال ته د پای ټکی کېږدي او جګړه پای ته ورسوي، اسلامي امارت جنګ او مقابلې ته مجبور کړای شوی دی.»

له دې ټولو سره سره، د سولې اړوند هر کوچنی او لوی حرکت په خپل ځای هیله‌بښونکی او ارزښتناک دی او له همدې کبله په هلمند او یو شمېر نورو ولایتونو کې د سولې او امن د راتلو په پار ولسي غړونو هم له ځان سره هیلې راټوکولې دي؛ خو دا خوځښتونه به هغه وخت لا ډېر اغېزناک شي، چې د جګړې په ټولو لورو د افغانانو د جدي ولسي فشارونو لامل شي.

## د جګړې خلاف د ولسي غږ اغېزې

په تېرو کلونو کې ګڼو بې‌طرفه لورو د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې بهیر د بریا لپاره هڅې کړې دي؛ خو د دغو هڅو د ناکامۍ یو مهم لامل تل د جګړې په دواړو لورو کې د سولې لپاره د رښتینې ارادې نشتون بلل شوی او د سولې لپاره رښتینې اراده نېغ په نېغه په ولسي فشارونو پورې هم تړلې ده. دا چې یو شمېر لوري او اشخاص د جګړې په دوام کې خپلې ګټې ګوري، له کبله یې تراوسه افغانستان-شموله ولسي فشارونو ته هم زمینه نه ده برابره شوې. څکه نو که دا غړونه دوام وکړي او نور هم پراخ شي، ښایي اغېزې به یې هم پراخې وي؛ څکه د ولسونو ګډ غږ تل بدلون راوستی دی.

د ملي یووالي حکومت لهخوا د کابل پروسې په دویم کنفرانس کې طالبانو ته د سولې وړاندیز وشوده، چې په تېره څه باندې یوهنیمه لسزه کې د لومړي ځل لپاره د سولې په تړاو د حکومت په دریځ کې نرمښت ولیدل شو او دا وضعیت هم تر یوه بریده د هغو ولسي فشارونو له کبله دی، چې په وروستیو کلونو کې د بېلابېلو افرادو او بېطرفه ډلو لهخوا په دې برخه کې شته دي.

له هلمنده د جګړې خلاف سولهییز احتجاج چې د هېواد د بېلابېلو قومونو، سیمو او ژبو خلکو پهکې برخه اخیستې، په اوسني وخت کې هیلهبښونکی خوځښت دی. له همدې کبله، که چېرې روان ولسي حرکتونه ریښتیا هم ولسي پاتې شي او د طالبانو ترڅنګ نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه امریکا ته هم له بېلابېلو لارو د فشارونو لپاره خپل غږ ورسوي، ښایي د سولې ولسي خوځښت تر چتر لاندې د افغان ولس غږ واورېدل شي او په ریښتیني توګه په افغانستان کې د جګړې پر پای ته رسولو غور وشي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com